د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama.unmissions.org

**<u>رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)</u>**

**امادا بې ناویدیس، د اجیر سرتیرو د کاروني په اړه د ملګرو ملتونود کاري ډلې غړې**

**الکساندر نیکیتین د اجیر سرتیرو د کاروني په اړه د ملګرو ملتونو کاري ډلی غړی**

**دان مکنارتن، د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- د اپریل د میاشتی نهمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما:** سلام علیکم، سهار مو نیکمرغه. د ډیرې خوشالۍ ځای دی چې تاسو نن سهار دلته تشریف راوړ.

نن موږ د اجیرو سرتیرو د کاروني په هکله د ملګرو ملتونو د خپلواکی کارې ډلې څخه دوه کارکوونکي ښاغلی الکساندر نیکیتن او آغلې امادا بې ناویډیس پیرس له ځانه سره لرو.

هغوې دواړه په دې موخه افغانستان ته راغلي چې د موجودو نړیوالو خصوصي امنیتي شرکتونو، د هغوې د فعالیتونو او همدارنګه په افغان وګړو د هغو د فعالیتونو اغیزې وارزوي.

که چیرې تاسو د یوناما او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو په اړه کومې پوښتنې لرئ، نو زه او د یوناما د مطبوعاتي کنفرانس غړي به ستاسو د پوښتنو ځوابویلو ته هرکلی وواېو، او همدارنګه د کنفرانس په پای کې مرکو ته چمتو یو.

زه د خبرو وار ښاغلی الکساندر ته ورکوم، نوموړی به په دې هکله لنډه معرفي وړاندې کړي او بیا به ښاغلی نیت کین او آغلې بې ناویډسن ستاسو پوښتنو ته ځوابونه وواېي.

**د اجیر سرتیرو د کاروني په اړه د ملګرو ملتونو کارې ډله، الکساندر نیکیتین**

تاسو ته ښه راغلاست وایم، دې کنفرانس ته ستاسو له راتګ څخه مننه کوم. زه به پدې اړه یوه لنډه تبصره وړاندې کړم او بیا به ستاسو پوښتنې ځواب کړو. د مطبوعاتي پاڼې یوه کاپي مو هم تاسو ته وړاندې کړې. امادا بې ناویډسن او زه الکساندر نیک تین د اجیرو سرتیرو د کاروني په اړه د ملګرو ملتونو د کارې ډلې د ۵ غړیو له جملې څخه دوه غړي یو.

د اجیرو سرتیرو د عنعنوي مسلې سربیره، کارې ډله همدارنګه اختیار لري چې د خصوصي پوځي او امنیتي شرکتونو فعالیتونه او د بشري حقونو په اړه د هغوې اغیزې نظارت او مطالعه کړي. کارې ډلې دا جوته کړې چې په هیواد کې د خصوصي شرکتونو شتون او څرګندیدنه د افغانستان د حکومت، نړیوالي ټولني او ملګرو ملتونو په شمول د خوندیتوب او امنیتي اړتیاوو سره مطابقت کوي.

کارې ډله د امنیتي خصوصي شرکتونو څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر کار کوي چې د قانون په تشه کې فعالیت ترسره نه کړي او همدانګه ډاډ حاصل کړي چې د نظارت، رونوالی او حساب ورکوني سم میکانیزمونه ځای پر ځای کړي څو د بشري حقونو د بشپړې ساتنې په موخه د یوه خوندي چاپیریال څخه ډاډ حاصل کړای شي.

موږ په افغانستان کې د یوې اونۍ څخه کم وخت تیر کړ خو دا وخت ډیر ګټور وه. موږ فرصت تر لاسه کړ چې د یو شمیر زیاتو سره لیدنی کتني ترسره کړو لکه د افغانستان د حکومتي چارواکو، وزیرانو، پارلمان غړو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له دوو غړو، مدني ټولنې، ملګرو ملتونو، او خصوصي شرکتونو او همدارنګه د ديپلوماتیکې ټولنې د استازو سره.

موږ له جلال آباد څخه هم لیدنه وکړه، هلته مو د والي او ولایتي چارواکو سره هم ولیدل.

اجازه راکړئ زموږ د لومړنیو موندنو په باب څو خبرې وکړم. بشپړ راپور به د بشري حقونو شورا ته وړاندې شي او عمومي اسمبلي ته په راپور کې به هم راشي چې د دې کال په مني کې وړاندې کیږي. لومړی، افغانستان له څو ملکونو څخه یو دی چې دا مخصوص قانون یې رامنځ ته کړی دی چې د ملي او نړیوالو شخصي امنیتي شرکتونو فعالیتونه تر نظم لاندې راولي. دغه قانون د ۲۰۰۸ کال په فبرورۍ کې په افغانستان کې تصویب شو، او له امله یې ۳۹ افغاني او بهرنیو شرکتونو ته د کار اجازه لیکونه ورکړل شول او د دوي پرسونل او سلاوې ثبتې شوې او دغو شرکتونو تقریبا په منظم ډول خپل راپورونه ورکړي دی.

اوس، درې ورځې پخوا د عدلیې وزارت پارلمان ته د شخصي امنیتي شرکتونو د قانون مسوده ولیږله. کارې ډله تر اوسه پورې د دې مسودې کوم نقل په لاس نه دی راوړي او موږ هیله من یو چې د ډیرو ایجنسیو او وزارتونو د بحثونو په نتیجه کې به په مسوده کې بدلونونه او تبصرې اضافه شي، خو کارې ډله په عموم ډول

په دې نظر ده چې يو قانون چې د شخصي امنيتي شرکتونو په فعاليتونو باندې او دغه راز د دوی له خوا په حساب ورکوني باندې د دولت له پلوه څارنه او کتنه تضمينوي، يو مثبت ګام دی.

دغه راز دغه قانون بايد د بشري حقونو په بشپړه توګه ساتنه وکړي او قربانيانو ته د اغيزمني تلافي حق ورکړي. موږ هيله من يو چې نوی قانون به له پراخو سلا مشورو او له پوره پوهاوي څخه وروسته تصويب شي ځو په مناسبه توګه د هغه تطبيق تضمين شي او درناوې يې وشي.

دويم، موږ غواړو په دې بنيادې اصل تاکيد وکړو چې دولت بايد د ځواک په استعمال باندې کنترول ولري. دولت بايد د قوې په مشروع استعمال باندې نظارت او کنترول وساتي او پرينږدي چې نا دولتي فعالين وسلې ولري او دولت په هغوی هيڅ ډول مناسب کنترول و نه لري.

په دې ارتباط کاري ډله د افغانستان د حکومت د دې ارادې هر کلی کوي چې په تدريجي ډول د خپلو وسله واله قواوو، پوليسو او امنيتي قواوو ظرفيت لوړوي او هغوي ته روزنه ورکوي چې د خپلو خلکو او د دوی به خاوره کې د نړيوالي ټولني امنيت يقيني کړي او په عين حال کې د قانون حاکميت او بشري حقونه هم تضمين کړي.

په پای کې، غواړو تاسې ته خبر در کړو چې کاري ډله د شخصي امنيتي او نظامي شرکتونو د فعاليتونو د تنظيم لپاره په يوه نړيوال تړون باندې کار کوي. د دې تړون تيارول به د حکومتونو په منځ کې يوه لويه او اوږده پروسه وي او کاري ډله به د افغانستان له تجربې څخه ګټه واخلي چې داسې يوه مسوده وړاندې کړي چې عيني شرايطو ته انعکاس ورکړي او ددې صنعت او د دوی د مشتريانو د ګټو او هغو اړتياوو په منځ کې يوه موازنه پيدا کړي چې د شفافيت، حساب ورکوني او څارني ترمنځ شته.

اجازه راکړئ له افغان حکومت څخه مننه وکړم چې دې کاري ډلې ته يې بلنه ورکړه چې له افغانستان څخه کتنه وکړي او له ټولو همکارانو څخه د دوی د ګټورو خبرو او همکاريو له امله مننه کوو.

**پوښتني او ځوابونه**

**افغانستان ټايمز:** افغان چارواکو په وار وار خصوصي امنيتي شرکتونه په هيواد کې په ناامنيو کې ښکيل بللي. آيا تاسو د خپل سفر پر مهال ځينو نتيجو ته رسيدلي ياست، په هيواد کې د موجوده نا امني په پام کې نيولو سره، آيا د خصوصي امنيتي شرکتونو دومره زيات شمير ته څه اړتيا ليدل کيږي؟

**امادا بې ناويديس:** له افغانستان څخه زموږ د ليدني پرمهال، موږ د يو شمير بيلا بيلو فعالينو لکه مدني ټولنی، حکومت، پارلمان او د نورو تر څنګ د بشري حقونو د خپلواک کميسيون سره وکتل. زموږ نظر دا دی چې د غونډو څخه دا خبره روښانه شوه چې افغانستان د يوه ستونزمن حالت څخه تيريږي، اړتيا ليدل کيږي چې د ملکي وګړو د ساتني لپاره خصوصي امنيتي شرکتونه موجود دي. موږ باور لرو چې اړتياوې بايد موقتي وي او د قوې کارونه بايد تر ممکنه حده پورې د حکومت له خوا وکارول شي ځو ملکي وګړو ته ساتنه برابره شي.

**الکساندر نيکيتين:** موږ د دی دواړو مسلو ترمنځ اړيکي وينو. په هر ښه ډول چې تاسو خپل دولتی ځواکونه غښتلی کړي په هم هغه اندازه دی امنيتی شرکتونوته اړتيا کمه ليدل کيږي. خو دا کار وخت ته ضرورت لري.

**امادا بې ناويديس:** په عين وخت کې موږ اړتيا لرو چې د دغو شرکتونو له خوا د زياتې قوې د کارولو په موخه د کنترول څخه کار واخلو، موږ بايد دواړه، د شرکتونو امنيتي پرسونل او هغه وسلې چې د هغوي له خوا کارول کيږي، کنترول کړو.

**د افغانستان ټايمز پرله پسې برخه:** تاسو په دې هکله چې دغه امنيتي شرکتونه د هيواد په نا امنيو کې ښکيل دی او که نه کومه تبصره و نه کړه؟

**امادا بي ناويديس:** په ربښتيا سره بايد حکومت داسي تدبيرونه معرفي کړي چي خصوصي پوځي او امنيتي شرکتونه د قانون د دايري نه د باندي فعاليت و نه کړي. دمګړی موږ نه شو کولای وو ايو چي دا شرکتونه تر کومي اندازي فعاليت وکړي. خو دا ډيره روښانه ده چي حکومت بايد د دغو شرکتونو فعاليتونه کنترول کړي که چيري په مناسبه توګه ددی کارول په کاروي.

**د تمدن تلويزيون:** ښکاري چي دولت د خصوصي امنيتي شرکتونو د کنترول په موخه کافي تدبيرونه نه لري. آيا تاسو په دي اړه فکر کړي چي په هيواد کي به نا امني زياته شي؟

**الکساندر نيکيتين:** له هر څه لومړی، کنترول يو څو اړخيزه پروسه ده، د کنترول ځيني طرز العملونه بايد د وزارتونو له خوا پلي شي خو کنترول کيدای شي د مدني ټولني، انجوګانو او حتی د ډله ييزه رسنيو له خوا و کارول شي. دا زموږ لپاره د پام وړ وه څو وګورو چي د لوي څارنوال دفتر دغه مسله تعقيب کړي او د ستونزو په هکله د خصوصي امنيتي شرکتونو په اړه د ستونزو اوږد لست تيار کړي او د دغو دوسيو څيړنه د ځايي چارواکو له خوا ترسره کيږي. هغوي د څيړنو په بيلا بيلو مرحلو کي قرار لري، خو ښکاري چي په دي اړه کوم ايډيالستيک روش نه دی موجود ، افغان حکومت په هغو ستونزو کار کوي چي د ځينو شرکتونو سره د کار کولو په ترڅ کي راپيدا شوي دي.

زموږ په څير هيئت د دی لپاره راغلي څو وګوری چي دا سيستم پيل کيږي. موږ د دي لپاره دلته نو يو راغلي چي دوسيي و څيړو، موږ د دی ځای په ژبو نه پوهيږو، موږ هغه توان نه لرو هغو ځايونو ته ولاړ شو چيري چي ستونزي موجودي دي، خو موږ د هغو دفترونو د کومو څخه چي ليدنه کړي ځيني نتيجي تر لاسه کړی، موږ د بيلا بيلو دوسيو د غټو ټکو څرګندونه کړي، خو د دغو دوسيو زياتره برخه په دری ژبه ليکل شوي او موږ بايد دا د کار او څيړني په موخه وژباړو.

**د طلوع تلويزيون:** دا وويل شو چي په افغانستان کي د دي ستونزي د حل لپاره کومه ډيره غوره لار نشته. آيا تاسو فکر کوئ چي د افغانستان دولت به د دي توان ولري چي په غوره توګه دغه ستونزه حل کړي؟ او د دغو خصوصي کمپنيو ډيري يي دلته په افغانستان کي په زور واکانو پوري اړه لري او حکومت په وار، وار دا منلي ده چي په تيښتوونو کي د ځينو امنيتي خصوصي کمپنيو لاس دی. آيا تاسو د خپل سفر او کتنو پر مهال دغه ډول نتيجو ته رسيدلي ياست؟

**امادا بي ناويديس:** موږ د ډيرو فعالو کسانو سره وليدل لکه چي دا مو ياده کړه موږ د دغو ډول قضيو په اړه معلومات تر لاسه کړي دي، له بده مرغه دي کي سندونه او مدرکونه کم دي. دا به په واقعيت سره مرسته وکړي که چيري تاسو د رسنيو استازی کوم خاص معلومات لرئ چي هغه زموږ سره شريک کړئ چي هغه د منفردو قضيو په اړه وي او موږ به دغه تفصيلات دلته د يوناما د دفترونو د همکارانو سره شريک کړو او دا هم په هغه صورت کي چي دغه معلومات انتقال شي.

**د طلوع تلويزيون پر له پسي پوښتنه:** د ميکانيزمونو په اړه؟ او زورواکانو په اړه؟

**الکساندر نيکيتين:** تير کال همدا مهال دولت په دي وتوانيدلو چي يو سيستم رامنځته کړي چي هر يوه د ۳۹ کمپنيو څخه چي جواز لري بايد د کورنيو چارو د وزارت د لاری د خپلو فعاليتونو په اړه ډير ژر د پرسونل د تغير، د وسلو د شميرې او نوعيت په اړه معلومات ورکړي. حکومت هغو قراردادونو ته لاس رسی نه لري چي د کمپنيو او بهرنيو قراردادي نمايندګيو تر منځ شوي دي، خو داسي جوتيږي چي هغوي بايد داسي يو ميکانيزم ولري چي د هغه له مخي د سترو کمپنيو اصلي فعاليتونه تر څارني او نظارت لاندي راشي. پر يو وخت نه بايد دغه راپورونه ډير جدي و نيسو، دا په عمومي صورت سره وي او د تخلف ستونزي د لويي څارنوالی او محلي څارنوالانو له خوا تر تفتيش لاندي نيول شوي دي چي د کورنيو چارو د وزارت له خوا ورته استول شوي دي.

**امادا بي ناويديس:** موږ په دي پوهيږو چي دغه مقررات د ۲۰۰۸ کال په فبروری کي نافذ شوي دي موقتي دي. اوس چي قانون پارلمان ته استول شوي دي نو اوس د دي ښه فرصت دی څو ټولي هغه تشي د پراخو بحثونو د لاري ډکي شي چي په دغو مقرراتو کي شته ښکاره ده چي په دي کي د مدني ټولني سره مشاورت هم شامل دي څو ددې باور تر لاسه شي چي هر ډول اشتباهات چي پخوا موجود وو اوس اصلاح شي.

**د نګاه تلویزیون:** تاسو وويل چې دغه قانون پارلمان ته استول شوې دي او همدارنګه مو وويل چې د هغه کاپي مو نه ده ليدلې. تاسو څنګه کولای شي د دې قضاوت وکړئ چې دغه قانون يو ګټور قانون دي او دا چې هغه د نړيوالو معيارونو سره سم دي او که نه؟ او ستاسې وړانديزونه د افغانستان دولت ته څه دی؟

**الکساندر نيکيتين:** تر هر څه د مخه موږ ولیدل چې د قانون کاپی په دری وه او د عدليې په وزارت کې موږ ته وويل شول چې يو شمير مادې بشپړې دي او د موضوعاتو عمومي فهرست ورسره دي، نو موږ دا امکان درلود چې په مشخص ميکانيزم باندې وغږيږو چې هلته وو. ددغو ميکانيزمونو څخه ډير يې د هغو ميکانيزمونو سره متوازې دي چې يو کال وړاندې يې د اجراييه قوې له خوا تصويب شوی وو.

**امادا بې ناويديس:** موږ نه غواړو داسې تصور وړاندې کړو چې موږ په پټو سترګو د يو قانون په اړه پرته له دې چې مو لوستلی وي وغږيږو. هغه څه چې موږ يې ويل غواړو هغه دا دي چې موږ پر مقرراتو تاکيد کوو. دلته د دغه ډول مقراتو لپاره اړتيا ده او دا چې اوس قانون پارلمان ته استول شوي دي نو موږ باوري يو چې پر هغه به پراخه بحثونه وشي او په ټولو هغو تشو به بحث وشي چې په تير قانون کې دې نو په دې توګه دغه ټوله موضوع تر پوښښ لاندې راځي.

**آزاد ژورنالست:** تاسو دلته پنځه ورځې تيرې کړې دي او دا مو يو اغيزمن سفر وبللو، تاسو په جدي ډول د قانوني چوکاټ په اړه وغږيدلې. خو يوه مرکزي مسله ده هغه د دغو اجيرو سربازانو او د خصوصي امنيتي کمپنيو په اړه د بشري حقونو د رعايت په اړه ده- تاسو به دې اړه د تبصرې څخه ډډه وکړه، آيا تاسو د دې ستونزې په اړه اندیښنه نه لرئ؟ خصوصي کمپنيو د اغيزو په اړه چې د ملکي وګړو پر ژوندې لري او د بشري حقونو د رعايت په اړه څه لرئ؟

**الکساندر نيکيتين:** دغه مسله څو اړخونه لري.دلته د بهرنيو کمپنيو په اړه چې په افغانستان کې فعالې دي او د هغو لړ کمپنيو تر منځ چې افغاني دي توپير شته. کله چې د مدني ټولنې او غير دولتي موسسو سره او حتی د ځينو وزارتونو او ولايتي چارواکو سره غږيدلو موږدې نتيجې ته ورسيدلو چې ځينې مقاومتونه د خصوصي کمپنيو په اړه چې امنيت د ساتنې لپاره دي موجود وو. نو دلته داسې احساس شته چې افغان حکومت بايد د دغو کمپنيو پر فعاليت نظر ولري. موږ ته مشخص ريفرنسونه راکړل شول چې د محلي افغانانو له خوا چې دغه کمپنيو استخدام کړي دي د بشري حقونو څخه سرغړونې شوې دي. د مثال په ډول اکثره وخت د افغانی کارکوونکو سره د فرعي قراردادونو لپاره هغوي ډير کمې پيسې تر هغه اندازې چې د لومړنی تنخاه په توګه د بهرنی قرارداد له مخې اختصاص شوې دي تر لاسه کوي. دغه ستونزه پراخه ده. موږ ته د ۶۰ کمپنيو شمير راکړل شول چې فعالې دي، اوس د جواز لرونکې شميره تر ۳۹ را ټيټه شوې ده، خو لا تر اوسه هم ۲۳۰۰۰ کسان په دغو کمپنيو کې دي، چې راجستر شوي دي او ډيرې يې بهرنيان نه دي. دا ټول د ناسمو اړيکو سره د هغه چا له خوا چې په ګمارل شوي دي، مخامخ دي.
موږ د خپل کار په ترڅ کی د هغه ستونزو سره هم مخامخ شو چی په بهرنيو وګړو پوری اړه لري او د دی شرکتونو سره کار کوي. کو چيری يو افغان په دی شرکتونو کی د کار په ترڅ کی تيری کوي او بلی خوا ته هم افغان هم وی نو دا کار بايد د افغان چارواکو له خوا هوار کړای شئ. دا د افغانستان کورنې مسله ده او موږ د دی په اړه نه ځيرنه کوو او نه په کی دخالت کوو.
بله ستونزه دا ده چی هغه بهرنی وګړي چی په دی شرکتونو کی کار کوی او د يو افغان يا افغانانو سره يی ستونزه را منځ ته کيږي. مهمه خبره دا ده چی شرکتونو کله چی جواز لاس ته راوړی نو بايد چی هم هغه جواز، پرسونل او وسلې د کلونو لپاره استفاده نشئ. دا مهمه ده کو چيری يو تيری تر سره کيږی نو چارواکي بايد د سند په شتون کی په چټکتيا سره عمل وکړي. موږ د کمپنيو د اتحاديی سره هم خبري وکړي چی هغوی وويل چی دولت دا حق لری چی يو وګړی د خپل خاوری څخه خو چيری يو تيری تر سره کوي، اوباسي. او دا مهمه ده چی کو چيری يو بهرنی د افغانستان په خاوره کی تيری تر سره کوي نو د ځانګړو او مشخصو سندونو په شتون کی کمپنی بايد په ده پوه شي چی د افغان حکومت هغه ويستلی شي. کو چيری د څارنی سيستم په ښه ډول کار وکړي نو دا بايد يو نورمال کار شی.

**امادا بې ناويديس:** زموږ د خبرو په نتيجه کې چې د افغانستان د حکومت سره وشوې موږ وويل چې امنيت يو بشرې حق دي او دا کوم استثنايې حق نه دي چې يو ډله ور څخه برخمنه او بله نه وي. همدارنګه هر ډول حقونه چې د قانون په چوکاټ کې دي. دلته بايد د قانون حاکميت وي چې د دغو حقونو څخه سمه ګټه واخيستل شي.

**رویټرز:** آیا کولای شی چی د کمپنیو د پرسونل په اړه معلومات راکړي او زه یوازې غواړم دا معلومه کړم چې د هغو څومره یې غیر قانوني او پرته له جوازه کار کوي؟

**الکساندر نیکیتین:** هوکې، اجازه راکړئ چې ځینې شمیرې یادې کړم. موږ د موندنو له مخې چې دلته موږ پر هغو معلوماتو تکیه کوو چې د چارواکو له خوا راکړل شوي دي. دلته په مارکیټ کې ۶۰ شرکتونه فعالیت کوي. تیر کال کله چې دغه مقرره اعلان شوه یوازې د هغو څخه ۳۹ یې پر خپل وخت مناسب سندونه د خپلو کارکوونکو او د وسلو د نوعیت په اړه چې ورځخه کار اخلي او نور اړوند سندونه درلودل. دغه سندونه ډیر زیات وو، ځینې وختونه هغه په زرګونو پاڼو ته رسیږي چې هر شرکت یې وړاندې کوي. د ۲۰ څخه زیات شرکتونو ثبت رد کړای شو ځکه چې هغوي مناسب معلومات وړاندې نه کړای شو او یا هم په ټاکلې موده کې. نو اوس د ۳۹ کمپنیو یو چټر شته چې جواز لري. او د هرې کمپنې لپاره د کمیت او شمیر په لحاظ محدودیت شته ، نو په دې توګه ټول یې ۵۰۰ تنو ته په یو شرکت کی رسیږي.

**د رویټرز پرله پسې پوښتنه:** آیا تاسو پوهیږئ چې هغه کمپنې چې مناسب معلومات یې وړاندې نه کړای شو سرنوشت یې څه شو؟

**الکساندر نیکیتین:** دا ښه پوښتنه ده، دا چې باید موږ هغه ومومو موږ دې نتیجې ته رسیږو چې د قانوني لحاظه نورې کمپنې چې جواز نه لري، غیر قانوني دي. او د هغوي حالت د هغو ګروپونو او ډلو په څیر دي چې د ډایا ګ د پروګرام لاندې راځي چې د غیر قانوني ډلو بې وسلې کول دي. د دې سره هغه مقررات چې د کومو لاندې ۳۹ کمپنې تثبیت شوې هغوي قانوني دي، هغه نظر چې د افغان چارواکو له خوا وړاندې شو هغه دا و چې دغه ټوله پروسه یو ځل بیا د قانون پر اساس ترسره شي او هغه هم هغه وخت چې قانون تصویب شي، چې د دې سره به یو ځل بیا جوازونه صادر کړای شي. تر دغه مهاله زه فکر کوم چې هغه کمپنیو چې سندونه یې نه دي وړاندې کړې نو تر دې فشار لاندې به نه وي چې ژر تر ژر منحل شي.

**آل انډیا راډیو:** خپلو خلکو ته د امنیت برابرول د هر منتخب حکومت بنیادي مسوولیت دی. تاسي فکر نه کوئ چي دغو شخصي امنیتي شرکتونو ته مشروعیت ورکول به د افغان منتخب حکومت اعتبار ته زیان و نه رسوي؟ هغه ضمانتونه کوم دي چي له مخې به یې دغه شرکتونه د حکومت اعتبار ته زیان نه رسوي؟

**امادا بې ناویدیس:** دغه خبره موږ له حکومت سره مطرح کړه او داسي نظر موجود و چې دغه موقت اقدامات ضروري وو ځکه چې په ملک کی نا امنی او ګډوډي موجوده ده. مګر موږ خپل نظر څرګند کړی چې دولت باید د امکان تر حده پورې د ځواک په استعمال باندې خپل مناسب کنترول وساتي.

**الکساندر نیکتیین:** یو ځل وضاحت، تاسي شتمنو پر مخ تللو ملکونو ته وګورئ. دوي داسي شرکتونه د دولتي وظیفو لپاره نه ګماري، ځکه چي نظامي قوتونه او پولیس په کافي ډول قوت لري، خو دغه شرکتونه اجازه لري چي د بانکونو، کمپنیو او انفرادي اشخاصو له خوا د ټیټي درجي کارونو لپاره اجاره شي، خو د شخصي کارونو لپاره.

مهمه ستونزه دا ده چي دغه شرکتونه د دولت له خوا د دولتي امنیت په غرض استخدامیږي، ځکه چي د دولتي امنتي قوتونه ډیر کمزوري دي. نو یووړاندیز دا دی چي دغه امنیتي قوتونه په فیزیکي ډول ایسته نه کړای شي، بلکه د دوي په وظیفو او هغه سکټورونو کي بدلون راځي چي دوي فعالیت په کي کوي. د قوي پولیسي او امنیتي قوتونو او قوي محلي چارواکو په موجودیت کي دغه شرکتونه کیدای شي چي خصوصي سکټور ته ولاړ شي چي بیا به هم تر دولتي کنترول لاندې وي.

**امادا بې ناویدیس:** په اخیر کي زه فقط دوه خبرې لرم، چي زه فکر کوم چي د سپارښتنو په څیر دي ځکه تاسي د دې غوښتنه وکړه، لمړۍ خبره په مطبوعاتي بیانیه کي راغلي ده موږ هیله من یو چي دغه قانون په ژر تصویب شي مګر د پراخو سلا مشور له لارې.

دویمه خبره لیږ څه د اندیښني خبره ده او هغه دا چي یو زیات شمیر مختلفي قواوې چي د نظم او قانون ساتونکي دي او یو شمیر دې ته ورته نور قوتونه راپیدا شول، کیدای شي چي دغه قوتونه بې نظمي او ګډوډي ایجاد کړي.

**الکساندر نیکیتین:** زه غواړم یو څه اضافه کړم: ستونزه یوازی له هغو سره نه ده چې شخصي شرکتونه بلل کیږي. په افغانستان کې ډیر نور ډولونه د وسله واله قوتونو شته چې د شرکت حد یا سویې ته نه دي رسیدلې. د مثال په ډول، هغه تعریف چې د داخله وزارت له خوا کارول کیږي پنځه یا له هغو څخه زیات کسان د دی قانون تر لاندی راځي. هر ګروپ چې له څلورو څخه کم وي په دې قانون کې نه شي راتلای، د دې مانا دا ده چې د کمپنیو د تنظیمولو څخه ها خوا نور قوانین باید موجود وي چې د دایاګ په شان نوې پروسې سرته ورسوي او غیر قانوني ډلې چې د شرکتونو حیثیت نه لري منحلې کړي.

**امادا بې ناویدیس:** په پای کې، زه غواړم ووایم چې د نړیوال ټرون ګټه دا ده چې هره هغه تشه ډکولای شي چې په ملي قوانینو کې موجوده وي او دغه قانون او موږ ټول د یوه هدف لپاره کار کوو او هغه دا دی چې د اتباعو حقونه وساتل شي.